بسم الله الرحمن الرحيم

# جریده میـــزان

د سترې محکمې کاري ځرګندویه خپرونه

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

دو شنبه ۱۲ زمری ۱۴۰۵ هـ ش | ۱۹ صفرالمظفر ۱۴۴۸ هـ ق | ۳ اګست ۲۰۲۶ م | مسلسله شمېره (۱۴۲)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:

ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.

زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.

تفسير کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې عالي مقام د تحريراتو رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې عالي مقام د تحريراتو رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د مراجعينو (۳۳۳۰) عريضې ياد رياست ته راغلې؛ د عالي مقام څخه له هدايت وروسته بېرته خپلو صاحبانو ته سپارل شوې دي.

۲ـ (۹۸) فرمانونه، حکمونو او مصوبات چې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله تعالى)، د رياست الوزراء عالي مقام او د اسلامي امارت د مقام د دفتر له لوري صادر شوي، د سترې محکمې عالي مقام تر هدايت وروسته اړونده مراجعو ته د وروستيو اجراآتو په موخه لېږل شوي دي.

۳ـ د وزارتونو، امارتي ادارو، کمېسيونونو، د ملک (۳۴) ولايتونو محاکمو او نورو اړونده ادارو څخه (۱۸۵۶) مکتوبونه او وړانديزونه د سترې محکمې په عنوان راغلي؛ چې د سترې محکمې عالي مقام تر لارښوونې وروسته اړونده مراجعو ته د وروستيو کړنو په موخه لېږل شوي.

۴ـ د سترې محکمې (۵) وړانديزونه، د رياست الوزراء عالي مقام ته د منظورۍ په موخه لېږل شوي دي.

۵ـ د رياست‌الوزراء عالي مقام، د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوي رياست، وزارتونو، سازمانونو، شرکتونو، امارتي او غير امارتي بانکونو او د سترې محکمې مرکزي رياستونو له خوا (۷۸۳) مکتوبونه، د استهداء څانګې دوسيې، د تجديد نظر غوښتنې، د صلاحيت تفويض، د محکمې د تبديلۍ او د ملک د بېلابېلو محاکمو د هدايت غوښتنې اړونده اسناد ترلاسه شوي او د عالي مقام د هدايت له مخې اړوندو ادارو ته د اجراآتو لپاره سپارل شوي دي.

۶ـ د مخابراتو وزارت څخه (۱۰۹۶) مکتوبونه راغلي او اړونده برخو ته توزيع شوي دي.

۷ـ د ملک د ټولو ولايتونو له مرافعه محاکمو څخه (۹۱) مکتوبونه د سترې محکمې د مخزن عمومي مديريت ته راغلي، چې له جملې يې (۸۶) مکتوبونه د قبالو او وثايقو د معلوماتو په اړه وه، چې اړوندو مراجعو ته په خپل وخت معلومات ورکړل شوي، (۵) مکتوبونه چې ورسره (۴۲) جلده کتابونه د ۱۴۰۰هـ ش کال څخه تر ۱۴۰۵هـ ش د وثايقو کلني راپوروونه شامل وو، د حفظ لپاره مخزن ته تسليم او ځای پر ځای شوي او (۱۴) بوجۍ د اداري معاونيت د ۱۴۴۳هـ ق څخه تر ۱۴۴۵هـ ق کال پورې سوابق د حفظ لپاره را لېږلي او حفظ شوي دي.

۸ـ د بېلابېلو موضوعاتو په اړه د سترې محکمې د مرکزي ارشيف څانګې ته (۱۳۱۱۲) قطعې مکتوبونه صادر او وارد شوي دي.

۹ـ د وزاراتو، امارتي ادارو، کمېسيونونو، د ملک (۳۴) ولايتونو محاکمو اونورو اړونده ادارو څخه (۶۲۷) رسمي ليکونه د سترې محکمې په عنوان راغلي دي.

## د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د لوګر، پروان، هلمند، پنجشېر، سمنګان او کابل ولايتونو مرافعه محاکمو په ګډون د کابل ولايت د ۱۴ ولسواليو ابتدائيه محاکمو، د تېرې اداري د قضاياوو د څېړلو اختصاصي او د نشه‌يي توکو لپاره اختصاصي محاکمو او د وثايقو شپږ آمريتونو د قضائي او اداري مسؤولينو کړنې وڅېړل شوې، د هغو منسوبينو نواقص چې کم وو د محاکمو له مقرراتو او مصوباتو سره سم د مفتشينو له‌خوا ورته لازمې توصيې وشوې او د هغه منسوبينو چې نواقص يې زيات وو، راپوروونه يې د وروستي هدايت لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شول.

۲ـ د قضائي مفتشينو له‌خوا د پورته ذکر شويو محاکمو د عادي څېړنې پر وخت د هغه قضائي، اداري او خدماتي منسوبينو، چې با استعداده، وړتيا لرونکي او مخلص کسان وو، د ارتقاء يا په لوړو بستونو کې د تقرر لپاره او د هغو منسوبينو، چې تخلف يې زيات وو، راپوروونه يې د وروستي هدايت لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شول.

۳ـ د مؤظف هيئت له‌خوا په پورته ذکر شويو محاکمو کې د استوګنې د ودانيو له فزيکي وضعيت څخه ليدنه وشوه؛ د ترميم په موخه يې راپور ترتيب او د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شو.

۴ـ د قضائي پلټنو عمومي رياست د قضائي اجراآتو د ارزونې په موخه د (لوګر، پروان، هلمند، پنجشېر او سمنګان) ولايتونو له زندانونو څخه ليدنه او نظارت ترسره کړ او د بنديانو ستونزې، شکايتونه او قضائي اړتياوې ثبت او دا شکايتونه يې د مرافعه او ښاري ابتدائيه محاکمو او نورو اړوندو ادارو سره د حل لپاره شريک کړل.

۵ـ د قضائي مفتشينو له‌خوا (۱۰۳) اقتضائي قضاياوو ته رسېدنه شوې او راپور يې د وروستيو هداياتو په موخه د سترې محکمې عالي مقام ته لېږل شوی دی.

## د سترې محکمې د دارالافتاء رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې دارالافتاء رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي: دارالافتاء رياست د بېلا بېلو موضوعاتو په اړه (۱۹) شرعي فتواوې صادرې کړې؛ چې له يادو فتواوو څخه د ټولو محاکمو قاضيان او قضائي غړي د شرعي لارښوونې په موخه استفاده کوي او د قضاياوو د حل او فصل لپاره مستند شرعي بنسټ جوړوي.

## د سترې محکمې دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د غير شرعي رواجونو په اړه د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) د (۱۷)مې ګڼې فرمان، د امر بالمعروف او نهی عن المنکر قانون، هدايات، لارښود احکام او توصيو په اړه (۲۲) جلسې جوړې شوې دي.

۲ـ د مجاهدينو لپاره د تعليمي نصاب اړوند (۵۸) جلسې جوړې شوې دي.

۳ـ د اداري کارکوونکو لپاره د تعليمي نصاب اړوند (۵۸) جلسې جوړې شوې دي.

۴ـ د مجاهدينو لپاره د اصلاحي بيانونو اړوند (۲۲) جلسې جوړې شوې دي.

۵ـ د اداري کارکوونکو لپاره د اصلاحي بيانونو اړوند (۲۲) جلسې جوړې شوې دي.

۶ـ د قاضيانو، مفتيانو او رئيسانو ترمنځ د ديني مذاکراتو او اصلاحي بيانونو اړوند يوه جلسه جوړه شوې ده.

**د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته**

**د عمر فاروق ؓ په دوره کې قضاء:**

**اولسمه برخه:**

«د مسلمانانو ترمنځ سوله کول روا دي؛ خو داسې سوله نه، چې حلال حرام او حرام حلال کړي»: په دې کې دا دليل دی، چې سوله جواز لري او قاضي هم کولی شي، چې دواړه لوري سولې ته را وبولي.

ابن عابدين په ردالمحتار کې ويلي دي: قضاء بد بينی رامنځته کوي؛ نو څومره چې ممکنه وي، ځان دې ترې وساتل شي. په البيري کې د خزانة الأکمل له قول څخه راغلي دي: که قاضي د خصمينو د رضايت تمه لرله، نو د دعوی رد کول پروا نه لري، ترمنځ يې دې پرېکړه نه کوي؛ ښايي دوی سوله وکړي او تر دوو ځلو وړانديز وروسته يې دې نه رد کوي، که يې د سولې تمه نه وه، بيا دې پرېکړه ورباندې وکړي. الله ﷻ سوله په خير سره تعبير کړې او فرمايي: ﴿وَٱلصُّلۡحُ خَيۡرٞ﴾ [النساء/۱۲۸]

اخذليک: د قضاء تاريخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته، ۷۰ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## د سترې محکمې د قضائي معاونيت د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې قضائي معاونيت د ۱۴۴۷هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د سترې محکمې قضائي معاونيت ته د اسلامي امارت له بېلابېلو ادارو څخه د قضائي هدايت غوښتنې په موخه (۶۱۲) مکتوبونه راغلي، چې له ارزونې وروسته (۵۱۶) مکتوبونه احکام شوي او د لارښوونو مطابق اړوند ادارو ته لېږل شوي دي.

۲ـ د سترې محکمې قضائي معاونيت له خوا (۱۴۸۳) عريضې له ارزونې او هدايت وروسته اړوند مراجعو ته لېږل شوې او (۷۸۶) عريضې مستردې شوې دي.

## د سترې محکمې د محترم عالي مقام د دفتر عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې لنډ راپور

د سترې محکمې محترم عالي مقام د دفتر عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د سترې محکمې د عالي مقام له خوا (۹۵۹) جزائي او حقوقي دوسيې قضائي معاونيت ته لېږل شوې؛ د قضائي معاونيت له اجراآتو وروسته د عالي مقام د دفتر عمومي رياست له خوا اړوند مراجعو ته لېږل شوې دي.

۲ـ د سترې محکمې محترم رئيس او قاضي‌القضات شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب له اوو مسؤولينو او مراجعينو سره ليدنه کړې ده.

۳ـ د سترې محکمې عالي مقام د دفتر عمومي رئيس له (۴۱) مراجعينو سره د هغوی د ستونزو د اورېدو او حل په موخه ليدنه کړې ده.

۴ـ د رؤيت هلال مرکزي هيئت درې غونډې تنظيم او ترسره شوې.

۵ـ د تعليمي نصاب هيئت (۱۲) غونډې تنظيم او ترسره شوې دي.

## د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د ۱۴۴۷ هـ ق کال د څلورمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د ۱۴۴۷هـ ق کال په څلورمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي: د دارالانشاء عمومي رياست په څلورمه ربعه کې د محاکمو د تبديلۍ اړوند (۴۸۰)، د استهداآتو اړوند (۱۵۴)، د قضاتو د تخلفاتو اړوند (۹۶)، د تنازع صلاحيت اړوند (۴۵)، د تجديد نظر اړوند (۲۸۲)، د متفرقه موضوعاتو اړوند (۱۱۲)، (۲۰) متحدالمآلونه چې په مجموع کې (۱۱۸۹) موضوعات او عريضې کېږي؛ ټولو ته له اصولو سره سمه رسېدنه کړې ده.

## د سترې محکمې د قضائي تفتيش عمومي رياست مفتشينو د پکتياولايت له محاکمو او مرکزي زندان څخه ليدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام په هدايت د قضائي پلټنې د عمومي رياست يوه مؤظف پلاوي د محترم مولوي عبدالجبار (شهاب) په مشرۍ، چې مولوي کمال الدين (متقي) او مولوي مطيع الحق (آصف) يې غړيتوب درلود، د ۱۴۴۸هـ ق کال د محرم الحرام مياشتې په ۲۷مه نېټه پکتيا ولايت ته د محاکمو د تېرو فعاليتونو د څېړلو په موخه سفر وکړ.

د ليدنې په پيل کې ياد هيئت د مرافعه محکمې له رئيس سره وکتل؛ ورپسې يې د بنديانو د ستونزو د څېړلو په موخه د پکتيا ولايت له مرکزي زندان او توقيف خونو څخه ليدنه وکړه، د ياد محبس او توقيف خونو اړوند نارينه‌وو او ښځينه‌وو بنديانو بشپړ شهرت، کيفيت او اړتياوې يې له ځان سره يادداشت او بيا يې له اړوند محاکمو سره شريک کړل.

هيئت د خپل کاري پلان له مخې د ياد ولايت (١٤) ولسواليو د ابتدائيه محاکمو، د حقوقو مديريتونو، د ښاري او مرافعه محاکمو اړوند دېوانونو، د اسنادو، مخزن، وثايقو او حقوقو آمريتونو، نظامي او اختصاصي محاکمو څخه جلا جلا ليدنه وکړه.

نوموړي هيئت د پلټنې بهير په ترڅ کې د يادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هراړخيزه پلټنه وکړه، د محاکمو د قضائي او اداري پرسونل د سلوکي او مسلکي اړخونو معلومات يې واخېستل او د چارو د سمون په برخه کې. يې ورته لازمې لارښوونې وکړې.

دغه راز ياد هيئت د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او نېمګړتياوې له ځان سره يادداشت او په پای کې يې د ستونزو د حل، د خنډونو له منځه وړلو او د نېمګړتياوو د اکمال په اړه د پکتيا ولايت د مرافعه محکمې له مقام سره تفاهمي ناسته وکړه او اړوند ستونزې يې په جلا جلا توګه ورسره شريکې کړې.

د پلټنې هيئت د خپل سفر په جريان کې د ياد ولايت او ولسواليو له مسؤولينو سره ناستې وکړې او د محاکمو د فعاليتونو د لا ښه پرمختګ او ځينو اړونده ستونزو د حل په موخه يې د هغوی نظرونه واورېدل.

د پلټنې هيئت ياد له لاسته راوړنو ډک سفر د ۱۴۴۸ هـ ق کال د صفرالمظفر مياشتې په ۸مه نېټه پای ته ورسېد.

## د کابل ولايت مرافعه، د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي او اختصاصي محاکمو په دوو اونيو کې (۵۱۶) دوسيو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولايت مرافعه محکمې دېوانونو، د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي او اختصاصي محاکمو په دوو اونيو کې (له ۱۶ /۱ /۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹ /۱ /۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۵۱۶) دوسيو ته رسېدنه کړې ده، چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

**د مرافعه محکمې د دېوانونو اجراآت:**

د کابل ولايت مرافعه محکمې دېوانونو ته په دوو اونيو کې (۲۲۵) دوسيې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۸۲) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۷) دوسيه فيصله شوې، (۲۴) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د نشه يي توکو او مسکراتو څخه د مخنيوي ابتدائيه محکمې اجراآت:**

يادې محکمې ته په دوو اونيو کې (۲۷۶) دوسيې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه (۳۳۱) دوسيې فيصله شوې، (۳) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

**د اختصاصي محکمې اجراآت:**

يادې محکمې ته په دوو اونيو کې (۲۴) دوسيې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم يو شمېر دوسيې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۵) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴) دوسيې فيصله شوې، (۱۰) دوسيې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسيې تر کار لاندې دي.

## محاکم ولايت بادغيس طی يک ماه علاوه بر رسيدگی به (۹۰۲) دوسيه، به تعداد (۲۲۵) قطعه وثايق را نيز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثايق، ابتدائيه شهری و ابتدائيهٔ ولسوالی‌های ولايت بادغيس طی يک ماه (از ۱/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسيدگی به (۹۰۲) دوسيه، به تعداد (۲۲۵) قطعه وثايق را نيز اجرا نموده‌است که جزئيات آن به شرح ذيل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جريان يک ماه به تعداد (۶۳۸) دوسيهٔ حقوقی وارد محاکم گرديده؛ در حالی که قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۴۴۲) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۹۹) دوسيه فيصله شده، (۶۷) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه‌های باقی‌ماندهٔ ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جريان يک ماه به تعداد (۳۱۳) دوسيهٔ جزائی وارد محاکم گرديده؛ در حالی که قبلاً نيز چندين دوسيه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله در رابطه به (۱۹۰) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۸۷) دوسيه فيصله شده، (۱۷) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده و دوسيه‌های باقی‌ماندهٔ ديگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثايق:**

در جريان يک ماه در محاکم ولايت بادغيس به تعداد (۲۲۵) قطعه وثايق مختلف النوع نيز اجرا گرديده‌است.

## محاکم ولايت بدخشان طی يک ماه علاوه بر رسيدگی به (۴۴۹) دوسيه، به تعداد (۵۱۱) قطعه وثايق را نيز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثايق، ابتدائيه شهری و ابتدائيه ولسوالی‌های ولايت بدخشان طی يک ماه (از ۱/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسيدگی به (۴۴۹) دوسيه، به تعداد (۵۱۱) قطعه وثايق را نيز اجرا نموده‌است که جزئيات آن به شرح ذيل می باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جريان يک ماه در محاکم ولايت بدخشان به (۲۸۹) دوسيهٔ حقوقی رسيدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۴۳) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۱۲۶) دوسيه فيصله شده و (۱۲۰) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده است.

**در بخش جزائی:**

در جريان يک ماه در محاکم ولايت بدخشان به (۱۶۰) دوسيهٔ جزائی رسيدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۶۷) دوسيه قرار قضائی صادر شده، (۸۲) دوسيه فيصله شده و (۱۱) دوسيه مکتوبی مسترد گرديده است.

**در بخش وثايق:**

در جريان يک ماه در محاکم ولايت بدخشان به تعداد (۵۱۱) قطعه وثايق مختلف النوع نيز اجرا گرديده‌است.

## د روزګان ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۳۹۸) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۸۴) وثيقې هم اجرا کړې دي

د روزګان ولايت مرافعه، ښاري ابتدائيه او د ټولو ولسواليو ابتدائيه محاکمو په يوه مياشت کې (له ۱/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۳۹۸) دوسيو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۸۴) وثيقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئيات يې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۷۷) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۵۶) دوسيې فيصله شوې او (۱۶) دوسيې مکتوبي مستردې شوې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۷۰) دوسيو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۷۴) دوسيې فيصله شوې او (۵) دوسيې مکتوبي مستردې شوې دي.

**د وثيقو برخه کې:**

د روزګان ولايت محاکمو په يوه مياشت کې (۲۸۴) بېلابېلې وثيقې هم اجرا کړې دي.

## د زابل ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۶۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۰۸) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه، نظامي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱ / ۱ / ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹ / ۱ / ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۳۶۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۰۸) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

په یوه میاشت کې (۳۳۵) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۲۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۳) دوسیې فیصله شوې، (۱۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په یوه میاشت کې (۱۶۱) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۶۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۷) دوسیې فیصله شوې، (۵) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۰۸) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۵۹۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۴۷) وثیقې هم اجرا کړې دي

د پکتیا ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د پکتیا زون نظامي، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۵۹۲) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۴۷) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۳۴۱) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۴۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱۷) دوسیې فیصله شوې، (۲۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۲۷۵) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۱۸) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۷۸) دوسیې فیصله شوې، (۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د پکتیا ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۴۷) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت تخار طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۹۹۴) دوسیه، به تعداد (۴۱۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

محاکم مرافعه، وثایق، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌های ولایت تخار طی یک ماه (از ۱/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق) علاوه بر رسیدگی به (۹۹۴) دوسیه، به تعداد (۴۱۶) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است که جزئیات آن به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۶۵۵) دوسیهٔ حقوقی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۴۵۵) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۰۳) دوسیه فیصله شده و (۹۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۳۳۹) دوسیهٔ جزائی رسیدگی صورت گرفته‌است.

از آن جمله در رابطه به (۱۰۲) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۲۱۹) دوسیه فیصله شده و (۱۸) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده‌است.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت تخار به تعداد (۴۱۶) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده‌است.

## د کونړ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۹۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۵۲) وثیقې هم اجرا کړې دي

د کونړ ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه، اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۲۹۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۵۲) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

په حقوقي برخه کې د (۹۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۵۱) دوسیې فیصله شوې او (۲۲) دوسیې مکتوبي مستردې شوې.

**په جزائي برخه کې:**

په جزائي برخه کې د (۲۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۹۵) دوسیې فیصله شوې او (۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د کونړ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۵۲) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د هلمند ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۹۵۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۵۵) وثیقې هم اجرا کړې دي

د هلمند ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق نېټې څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق نېټې پورې (۹۵۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۳۵۵) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۶۵۷) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۱۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۲٤) دوسیې فیصله شوې، (۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو ته په یوه میاشت کې (۹۰۵) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۱۱) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۹۰) دوسیې فیصله شوې، (۷) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د هلمند ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۳۵۵) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۸۶۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۵۱۰) وثیقې هم اجرا کړې دي

د بلخ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د بلخ زون اختصاصي او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې (له ۲۵/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۸ / ۲ / ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۸۶۱) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۵۱۰) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۴۸۱) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۲۹۳) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱۷) دوسیې فیصله شوې، (۲۱۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۲۷۴) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۹۷) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۱۹) دوسیې فیصله شوې، (۱۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د بلخ ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۵۱۰) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د لوګر ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۸۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۸۴) وثیقې هم اجرا کړې دي

د لوګر ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د ټولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (له ۱/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې (۲۸۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۸۴) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

په یوه میاشت کې (۲۸۰) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۱۱۶) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۰) دوسیې فیصله شوې، (۱۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په یوه میاشت کې (۱۵۰) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه د (۴۷) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۵) دوسیې فیصله شوې، (۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د لوګر ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۸۴) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۴۲۷) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (له ۱/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۸هـ ق) نېټې پورې په حقوقي او جزائي برخو کې (۴۲۷) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۹۳) حقوقي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۴۴) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۴۹) دوسیې فیصله شوې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۳۳۴) جزائي دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

له دې جملې څخه د (۱۲۷) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۲۰۷) دوسیې فیصله شوې دي.

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
ادیتور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندویه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## معاون اداری ستره محکمه در رأس یک هیئت به ولایت بامیان سفر رسمی کرد

یک هیئت بلندپایه تحت ریاست محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب معاون اداری ستره محکمه، به تاریخ ۹ ماه صفرالمظفر سال ۱۴۴۸هـ ق، به منظور ارزیابی و بررسی امور محکمه مرافعه ولایت بامیان به آن ولایت سفر کرد.

در این هیئت، محترم مولوی سیف‌الله (آغا) رئیس عمومی امور کارکنان ستره محکمه، مفتی بخت‌الله عضو قضائی ریاست عمومی تفتیش قضائی، مدیر عمومی دسترسی به اطلاعات و مدیر عمومی بودجه انکشافی شامل بود.

معاون اداری ستره محکمه و هیئت همراه‌اش، در جریان این سفر در تالار محکمه مرافعه ولایت بامیان با مسؤولین و منسوبین قضائی و اداری محاکم مرافعه، ابتدائیه شهری و ابتدائیه ولسوالی‌ها دیدار کرد.

محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب در سخنرانی خود برای اشتراک‌کنندگان نشست گفت، هدف اصلی این سفر آگاهی نزدیک از مشکلات و نیازهای محاکم و برداشتن گام‌های عملی برای حل آنها است.

موصوف گفت، هدف بزرگ قربانی‌ها و جهاد مردم افغانستان حاکمیت نظام اسلامی بود، که به فضل الله متعال به این هدف رسیدند. هدف نظام اسلامی، تطبیق احکام الله متعال، جلوگیری از ظلم، حمایت از مظلوم، جلوگیری از فساد و تأمین عدالت در جامعه است و رسیدن به این اهداف از طریق محاکم شرعی ممکن می‌باشد.

محترم شیخ صاحب در جریان سخنرانی خود، چندین احادیث مبارک از رسول الله (صلی الله علیه وسلم) درباره ارزش و مسؤولیت قضاء نیز بیان کرد و به قضات توصیه نمود که وظایف خود را با تقوا، امانتداری و اخلاص انجام دهند؛ تا حق به صاحب حق برسد و عدالت تأمین گردد.

همچنان شیخ صاحب تأکید کرد، که همه منسوبین محاکم باید به شدت از آن اعمالی خودداری کنند که سبب آسیب دیدن اعتبار محکمه، بدنامی قضات و یا ناامیدی و بی اعتمادی طرفین دعوا میگردد.

پس از پایان نشست، هیئت متذکره علاوه بر رؤسای دیوان‌های محکمه مرافعه و ابتدائیه شهری بامیان، با رؤسای شماری از محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها نیز به‌گونهٔ جداگانه دیدار کرد، مشکلات و پیشنهادهای آنان را شنید و برای تنظیم بهتر امور، رهنمودها و توصیه‌های لازم را برای شان ارائه نمود.

هیئت متذکره به ریاست معاون اداری ستره محکمه همچنان با معاون والی بامیان، مسؤولین شورای علماء، محبس و سایر ادارات امارتی نیز دیدار کرد.

در این دیدار، درباره بهبود امور محاکم، تقویت خدمات عدلی و قضائی و افزایش هماهنگی میان ادارات امارتی مشوره‌های لازم و توصیه‌ها تبادله شد.

علاوه بر این، محترم شیخ سخاءالله (سعید) صاحب و هیئت همراه‌اش در جریان این سفر با مردم عام و مراجعین محاکم نیز دیدار کرد، مشکلات آنان را از نزدیک شنید و برای حل آن اطمینان داد.

## د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس د یوه پلاوي په مشرۍ سمنګان، کندوز، تخار، بغلان او بدخشان ولایتونو ته رسمي سفر وکړ

د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس، محترم مفتي عتیق الله (درویش)، د مفتي عبدالحی (شاکر) او مفتي فضل الرحمن (قاسمي) په ملتیا، د ۱۴۴۸هـ ق کال د محرم الحرام په ۲۸مه نېټه، د سترې محکمې د رئیس او قاضي‌القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب، د ځانګړي هدایت پر بنسټ سمنګان، کندوز، تخار، بغلان او بدخشان ولایتونو ته رسمي سفر وکړ.

د دغه سفر اساسي موخه د (۱۶) جزائي دوسیو په اړه د وروستیو معلوماتو بشپړول وو.

د سترې محکمې د جزا دیوان پلاوي د سفر په ترڅ کې د یادو ولایتونو د مرافعه محاکمو له رئیسانو، د جزا دیوانونو له مسؤولینو او قضائي منسوبینو سره جلا جلا غونډې ترسره کړې، د جزائي قضیو د حل او فصل او د قضائي اجراآتو د لا ښه‌والي په اړه یې مفصلې خبرې او بحثونه وکړل.

همدارنګه، د جزا دیوان عمومي رئیس او ورسره مل پلاوي د جزائي موضوعاتو اړوند (۱۶) دوسیې وڅېړلې، د دوسیو له طرفینو سره یې لیدنې وکړې او د قضیو د بشپړې ارزونې په موخه یې لازمې څېړنې او تحقیقات ترسره کړل.

دغه راز، د پلاوي غړو د سمنګان، کندوز، تخار، بغلان او بدخشان له والي صاحبانو سره هم وکتل او د محاکمو او نورو اړوندو امارتي ادارو ترمنځ د همغږۍ او ګډې همکارۍ د لا پیاوړتیا په اړه یې خبرې ورسره وکړې.

د سترې محکمې د جزا دیوان عمومي رئیس په دې لیدنو کې د والي صاحبانو له لوري له محاکمو سره د شوې همکارۍ ستاینه وکړه او د دغې همکارۍ پر دوام یې ټینګار وکړ.

د یادو ولایتونو د محاکمو مسؤولینو، والي صاحبانو او د نورو اړوندو امارتي ادارو مسؤولینو د سترې محکمې د جزا دیوان د عمومي رئیس او ورسره مل پلاوي د سفر هرکلی وکړ او څرګنده یې کړه، چې دغه ډول رسمي سفرونه د قضائي چارو د لا ښه تنظیم، د محاکمو د ورځنیو اجراآتو د پیاوړتیا او له امارتي ادارو سره د همغږۍ او همکارۍ په پراختیا کې اغېزناک او ګټور رول لري.

د یادونې وړ ده، چې د سترې محکمې د دغه لوړ رتبه پلاوي له لاسته راوړنو ډک سفر د صفرالمظفر میاشتې په ۱۰مه نېټه پای ته ورسېد.

## د ننګرهار ولایت لعل‌پورې ولسوالۍ ابتدائیه محکمې په هڅو د قتل موضوع حل او فصل شوه

د ننګرهار ولایت د مرافعه محکمې د محترم رئیس د لارښوونې او د لعل‌پورې ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې د رئیس، محترم مفتي شېربهادر (عادل)؛ د پرله‌پسې هلو ځلو او د قومي مشرانو، علماء کرامو او مخورو په همکارۍ، د لعل‌پورې ولسوالۍ د بارو سیمې د دوو کورنیو ترمنځ هغه اوږدمهاله دښمني، چې له امله یې یو تن وژل شوی او دوه تنه سخت ټپیان شوي وو، په ۱۱/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق د سولې له لارې پای ته ورسېده.

یاده موضوع ابتدائیه محکمې ته له راجع کېدو وروسته په بشپړ دقت او بې‌طرفۍ وڅېړل شوه.

د ابتدائیه محکمې د دوامداره هڅو او د مصلحینو د منځګړیتوب په پایله کې دواړو لورو د سولې پرېکړه ومنله او د مقتول د کورنۍ وارثانو قاتل او له پېښې سره تړلو نورو اشخاصو ته بخښنه وکړه.

د دواړو کورنیو غړو ژمنه وکړه چې له دې وروسته به د دښمنۍ او تاوتریخوالي پر ځای د ورورولۍ، سولې، یووالي او متقابل درناوي په فضاء کې ژوند کوي.





## د پکتیکا ولایت د ارګون ولسوالۍ ابتدائیه محکمې په انګړ کې یو باب مسجد جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د پکتیکا ولایت د ارګون ولسوالۍ ابتدائیه محکمې په انګړ کې یو باب مسجد جوړ او په ۷/ ۲/ ۱۴۴۸هـ ق نېټه رسمًا د لمونځ کوونکو لپاره ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

دغه مسجد چې د ارګون ولسوالۍ د اداري مجلس د ګډونوالو په مالي ملاتړ یې د جوړېدو چارې پیل شوې وې، په عصري سیستم جوړ شو.

د یادونې وړ ده، چې د امام ابو یوسف (رحمه الله) په نوم یاد مسجد په یو وخت د څه باندې (۴۰) لمونځ کوونکو ظرفیت لري.



قضائي احکام او فرامین
(۲)

## د نظامي محکمو د چارو د حدودو ټاکلو په هکله د عَالِیقَدر اَمِیرُالمؤمِنِین حَفِظَهُ الله تَعَالی فرمان

ګڼه: (۱۹)
نېټه: ۱۴۴۳/۴/۲۳ هـ ق

**د نظامي محاکمو د چارو د حدودو ټاکلو په هکله د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) فرمان**

نظامي محاکم د شرعي احکامو په رڼا کې د اسلامي امارت د درې ګونو امنیتي ارګانونو (ملي دفاع وزارت، کورنیو چارو وزارت او د استخبارتو لوی ریاست) پر چارواکو او منسوبینو باندې د ترسره شویو شکایاتو، دعواوو او عریضو د اورېدلو او څېړلو او د اثبات په صورت کې د شرعي پرېکړو د صادرولو صلاحیت لري، چې د پرېکړو (حدود، قصاص او اعدام) تطبیق به یې د درې ګونو محکمو او اسلامي امارت د مشرتابه له تائید وروسته په عملي ډول ترسره کېږي.

د اسلامي امارت درې ګوني امنیتي ارګانونه د نظامي محکمې د پرېکړو د عملي کولو په ملاتړ په جدي ډول مکلف دي.

**والسلام**

**امیرالمؤمنین شیخ القرآن والحدیث**

**مولوي هبة الله اخندزاده**

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته: ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳